# آيا تاسو پوهېږئ چې غیبت څه ته وايي؟ هغو وويل: الله جل جلاله او رسول يې ښه پوهيږي، ويې فرمايل: " په هغه څه سره دې د (مسلمان) ورور يادول چې هغه يې نه خوښوي

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «آيا تاسو پوهېږئ چې غیبت څه ته وايي؟ هغو وويل: الله جل جلاله او رسول يې ښه پوهيږي، ويې فرمايل: " په هغه څه سره دې د (مسلمان) ورور يادول چې هغه يې نه خوښوي." وويل شو: پدې اړه خبر راکړه چې: که چېرته زما په ( مسلمان ) ورور کې هغه څه وي چې زه وايم؟ ويې فرمايل: "که چېرته هغه څه پکې وي چې ته يې وايې نو غيبت دې وکړ او که چېرته پکې نه وي نو تور ( تهمت ) دې پرې پورې کړ».
[صحیح دی] [مسلم روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم د حرام غیبت حقیقت بیانوي، چې هغه پسې شا د مسلمان يادول دي په هغه څه سره چې هغه يې نه خوښوي، برابره خبره ده که ځاني صفتونه وي او يا اخلاقي لکه: وړوند، دوکه باز، دروغجن او داسې نور ناوړه صفتونه، اګر که دا صفت پکې موجود هم وي. او که چېرته پکې هغه صفت نه و، نو دا له غيبت نه هم سخته ( ګناه ) ده چې هغه تور پورې کول دي، يعنې په يو چا د يو کار دروغ ويل چې په هغه کې نه وي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5326

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee